اې الله! زه له تا څخه هدايت، تقوا، پاکلمني او غنامندي غواړم

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، چې له نبي صلى الله عليه وسلم څخه يې نقل کوي چې هغه به فرمايل: « اې الله! زه له تا څخه هدايت، تقوا، پاکلمني او غنامندي غواړم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له دعاګانو څخه يوه دا وه: «اللهم إني أسألك الهدى»: يعني اې الله! زه له تا څخه د هدايت سوال کوم، يعني د حق پېژندنه او عمل پرې، «والتقى»: يعني د تقوا غوښتنه کوم، يعني د الله د امرونو اطاعت او د منع شويو کارونو پرېښودل، «والعفاف»: يعني له ناوړه خبرو او عملونو څخه ځان ساتل، «والغنى»: يعني له مخلوق څخه بېنيازي، داسې چې يوازې خپل رب ته محتاج وي، او بل چاته لاړتيا ونه لري.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3596